
یو ړز دوه قتله
ناول
Ketabton.com
لیکوال: ادریس ساحل ساپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې خبرى به هر څوک خبر
وي چې طالبانو کونړ کې قارې
یاسین او ملګرى یې د ورور د
واده په ورځ شهیدان کړل اوس
راځم دې خبرى ته چې دا کیسه
څنګه وشوه ولى وشوه او څه
عبرت ترې باید واخیستل شي
یاسین په دوه زره دریم کال د
بهاول شاه په کور کې وزیږیده
لنډه اوږده یى څه کوي د ژوند
وروستى شیبى څنګه تیرى شوي
په دې ناول کى به یى وګورئ د
دې ناول کیسه د شهید یاسین د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور، تره ځوی عبید، میرویس
کاکا، او د لیکوال د سترګو لیدلې
حال دی کیسه ریښتینی او
درواغو ته په کې ځای ندی
ورکول شوی الله تعالی دې
زمونږ ټولنه نور د داسې غمونو
او کړاونو څخه وساتې
آمین

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیل

د مسلم د واده خبره ناڅاپه ډنډوره
شوه راتلونکې چهارشنبه به واده وي دا
خبره په بیړه خپره شوه او هر چا بل ته د
ثواب په نیت ورسوله خو خبره مخکی
خپره شوی وه کله چی دوی واده پسی لاړل
د مسلم خسر لږ وخت وغوښت نن واده دی
سبا واده دی په همدې هیله ورځې او شپې
تیریدی یوه ورځ زمونږ ورینداز وویل:

دا واده چی وروسته کیږی یوه
پیښه په کې کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وخندل ومی ویل: هسی لګیا یی دا بی
ځایه خبری دي هغه
وویل: ادریسه الله دې څه نه کوي خو هر
ځل داسی یوه پیښه شوی ده ځا خیر واده
رانږدې شو کالی تیار شول راتلونکې
چهارشنبه او پنجشنبه واده دی موزیک
چلان شو خوشحالیانی پیل شوي هر څوک
واده ته ځان تیاروې انجونو جامې کوي
ځوانانو په خپلو ویښتانو لاسونه ووهل د
انجونو د نکریزو شپه به سبا ماښام ته
ترسره کیږي ماخوستن مې فسبوک ګتلو
زمونږ د کلې نیاذمحمد حاجی صیب ځوي
چې د ډیر وخته په سرطان ناروغۍ اخته و
د حق داعی ته لبیک وویل دا فوسټ مې
وګتلو خوره غمجن شوم عمیر کوچنۍ و لا
ځوانۍ ته نه و رسیدلۍ چې په سرطان
ناروغۍ اخته شو ډیر یی وګرځولو خو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د تقدیر فیصله وي انسان یې نشي
بدلولی په سبا یې عمیر خبښ کړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ راځو بیرته واده ته واده روان دی
سیلونه شروع دي شپه وه تیره شوه په سبا
ماښام یاسین جواب راولیږو چې بابا ته
ووایی مړی شوی او مونږ د نکریزو شپه
کوو ستاسو کور کی به یی وکړو خبره
تایید شوه نوره به کیسه کوم زه د خپل ژوند
له نظره نه بلکی د یاسین د ژوند کیسه به
کوم د سی شنبی له غرمې یاسین او عبید
کارټونه وویشل په سبا د چهارشنبی ورځ
وه عبید چې د یاسین د تره ځوی دی پارک
کې ناست دی موبایل ته یی زنګ راغلی
عبید موبایل راواخیست د موبایل په سکرین
د لمبر سره د یاسین نوم لیکل شوی و د
هوکی بټن یی کیکاږله موبایل یی غوږ ته
ونیو

ـهلو سلام علیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـوعلیکم السلام څنګه یی ښه یی؟

ـهو شکر دی د الله فضل دی ته څنګه یی؟

ـ ښه یم عبیده ما ویل ذاهد ډیر کلک دی
وایی ما او تا به د مسلم د نکریزو شپه
وکړو ما ویل چی تاته یی ووایم ته خپه
نش‌ئ

ـای لکه یاسینه د کور خبره ده بهر ته یی
څه ته وباسی خو ما او تا به کړی وی کنه

ـ ته صحیح خبره کوی خو د ذاهد سره می
د ډیر وخت څخه وروري ده او خپه کیږی

ـځا صحیح ده چی ته وایی تا او هغه یی
وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

- یاسین خدای پامانې واخیسته موبایل یی بند کړ د چهارشنبی سهار و عبید ذاهد او یاسین دوی لګیا دي اوړه تقسیموی کور ته چې اوړه وروړې او کوم کور یی وانه خلې بیرته یی راوباسي دا ورته وایی ځان ته یی پاخه کړی مونږ یی درڅخه نه غواړو خو دا بیغیرتوب مه کوی کله چې موټر خواته راشي عبید ورته وایی ولې

- مړه بیغیرتوب یی وکړو

- عبید خیر دی مړه تیریږه ترې څوک به یی اخلې څوک به یی نه اخلې چورت مه خرابوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوړه تقسیم شو د غرمې وروسته لاړل تر څو د نکریزو شپې ته تیاری ونیسي د څه شي اړتیا چې وه هغه یې واخیستل عبید ته یې زنګ ووهه

- هلوسلام علیکم

- وعلیکم السلام څنګه یې ښه یې؟

-هو ښه یم ته څنګه یې؟

- زه هم ښه یم

-عبیده ګلان پوکڼې کیک او ګل مو واخیستل بس دی؟

-هو بس دی اوس چیرته یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـچوک کې يو

ـ خاا د کراکري دوکان ته راځه بيا به يو ځای لاړ شو

ـسمه ده ياسين او ذاهد د کراکرئ دوکان ته لاړل ميرويس کاکا هم دی سترړي مشي يی وکړه خبری کولی د کراکرئ والا ميرويس کاکا ته وايی د دې واده به څه وخت وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ میرویس کاکا  وویل: مسلم یی اخیری
څوی دی دې ته واده نه کوي له مرګه
مخکی داسی ډیر تعجبی کارونه کیږي د
عبید سره یو ځای راغلل کیک یی په بلئ یا
چت کیښود تر څو وچ شي د مازیګر وخت
و یاسین د تره کور ته چیرته چې یی د
نکریزو شپی مراسم نیولی راغلی ذاهد او
بختیار  هم ورسره دی د ځای جوړولو
باندی شروع وکړه عکس ولګول شو ((د
مسلم واده ته ښه راغلاست)) مسلم د عکس
په منځ کی ولاړ دی یو خوا ذاهد او بلخوا
یاسین ولاړ دی نورو کوچنیو عکسونو کی
د یاسین ورور نوید خوری منیب او حنظله
او بل عکس کې د ترورځوی څوی ولاړ
دی عکس لګید میز کیښودل شو ګلان یی
شاوخوا ولګول شو خبره ده پوکڼو شوه
پوکڼی ماشومان پړسوي ادریس او ذاهد یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترې یاسین او بختیار یی په دیوال کلکوي کله نا کله یوه پوکڼی وچوي یاسین د میز د پاسه ولاړ دی وویل:

عبید چې راغلی بیا به په کې یوه خبره راوباسې لږ ساعت وروسته عبید راغلی د راننوتو سره سم یی وویل:

چی دا ګلان مو د کیک مخامخ کلک کړی وی نو ښایسته ښکاره کیدل د هغی دې خبري سره ټولو وخندل ټول یو طرف ته او عبید بل طرف ته نور وایی چی ګلان دلته کلک کړو نو شاوو خو پناه کیږی خو عبید بیا ویل: چې شاوو ته مخامخ ځای به غوڅ شي چا ونه منله عبید هم د خپلی خبری تیر شو ځای جوړ شو یاسین د تګ وخت کې ادریس ته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ته خو دلته یی دې پوکښو ته ګوره
ځوک یی ونه چوي دا معلومه خبره ده
ماشومان پوکښی وویښی ورخطا کیږي او د
راخیستو کوشش یی کوي د ماخوستن
ډوډئ وخوړل شوه یاسین کله یو طرف ته
کله بل طرف ته منډی وهی ګروف خراب
شو میلمانه د کور پر منځ کې یو او بل
طرف ته ګرځی اخر معلومه شوه چې لاین
سوی دی لږ وخت کې لین برابر شو یاسین
د مسلم چپ او عبید ښې طرف ته کیناست
سره قرطۍ اغوستی ښه جذاب په کې
ښکارې لګیا دې د نکریزو پروګرام مخته
وړې انرژی راواخلې څه عبید ته ورکړې
څه خپل مخته کیږدې لږ ساعت وروسته
سیل شروع شو یاسین لکه چمبه خپل
لاسونه پړقوي ذاهد کونج ته ولاړ دی او
یواځی تماشه کوي لږ وروسته راغلی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلم ښې اړخ ته ولاړ دی څو کسان پسې
خاندې ورته وایی ذاهده روپۍ لاړې ذاهد
په جذبه کې راغلی مخ یی سور شو مخ یی
ورته راواړو لاسونه یی په دواړو جبونو
کیښودل ورته وویل دا جب هم ډک دی او
دا بل هم سبا یی بیا کوو هلکان وشرمیدل
خو بیا یی هم خاندل هلکانو بیا دخوند لپاره
پوکڼۍ چولې د نکریزو شپه د هلکانو تیره
شوه او اوس یی باید کور ته ننباسی یاسین
عبید ته وایی ته به هم راسره ننوځې خو
عبید د ننوتلو وخت کې پاتې کیږي وروسته
چې یاسین راوځې عبید ته وایی انجینره
سخت زیاتی دې وکړو راسره نا نوتی عبید
ورته وایی راځه اوس به درسره ننوځم
دواړه بیرته ننوځې د ناوې کوټه جوړوی
لګیا دې یاسین دی عبید بختیار او ولی دی
یو طرف یی وکړو عبید ته وایی راځه بس

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی دا نور به سبا وکړو عبید وایی چی نا
سبا میلمانه وی او سبا نه کیږی اخر خبره
په دې جوړیږي چې لږ نور ځای به جوړ
کړو بیا به ویده شو یاسین د مالټو ډکه خالته
راوخیسته کوټه کې وغورځولې عبید کار
کوي یاسین او دا نور لګیا دې مالټی خورې
عبید کار ختم کړو مخ یی راواړو وویل:
مالټی مو ځانته وخوړي یاسین د توشک
لاندې څخه یوه کوچنۍ مالټه راوویسته
وویل: ستا به په دې کی قسمت و نورې
مالټی ټولې دوی په دری کسی خوړلی وي
یاسین عبید ته وایی په ډبل بیټ کی ته څمله
د مسلم څخه خو مخکی په کوټه کی خو
مونږ یوه شپه وکړو د شپی یوه بجه ده
میرویس چی د یاسین کشر کاکا دی او د
عبید پلار دی حجری ته روان دی یاسین
ورته وایی کاکا ته خو زمونږ پروګرام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیخی رانغلی؟

کاکا وایی زه بیخی وزګار نه وم

(c) ketabton.com: The Digital Library

. صرف سر خو به دې راښکاره کړی وی
کنه یاسین په لومړی ځل کاکا ته داسی
خبره کوي شپه وه تیره شوه واده شروع
دی یاسین ویټز موټر پیدا کړی سهار یاسین
ذاهد ته وایی ته د مسلم سره سقاوې ته
راشه یاسین لاړی مسلم او ذاهد چې سقاوې
یا سلمانې ته لاړل یاسین ځان وینځلی و
جامی بدلې کړي وي مسلم دوی هلته پاتی
شو او یاسین لاړی تر څو موټر ګل فوش
کړي اته بجو څخه وروسته ناوې پسی
لاړل یاسین موټر ماشومانو پسی ورتاو کړ
کله چې ناوی پسی نرنګ ته ورسیدل منګل
کاکا ورته وویل: یاسین اوس خو دې دا چل
وکړ خو بیا یی ونه کړي یاسین وخندل خو
هیڅ یی ونه ویل ناوی راوستل شوه ډوډی
شروع شوه خلک راځی ډوډی خورې او
بیرته ځی ډوډی خلاصه شوه میلمنو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چای راوړل شو د کراکرۍ شیان بیرته
ولیږل شو دوه نیمی بجی وې یاسین عبید ته
وایی اخترمحمد ته ووایه چې چکر ته ځو
هیڅوک هم نه ځی یاسین هر یو راضی
کوی او خپل اجل پسی روان دی نوید ورته
وایی ذاهد ځان سره ما بوځه موټر تییټ دی
خو یاسین هغه هم ځان سره روان کړو
مشر ورور ترې کیلی پټه کړه ورته وایی
نوید سره ده هغه نوید پسی لاړ بیرته
راغلې کیلی یی هم واخیسته ټول وایی
خاص کونړ ته ځو خو دا یی نه منې وایی
نه شیګل ته ځو بس دوه نیمی بجی وې
روان شول کله چې د کرهالې واوښتل د
تیلو پمپ ته ورستانه شول تیل یی واچول
او موټر د شیګل په لورې لاره لنډوې شپږ
موټری روانې دې کی سی سی ته نږدی
روان دې کی سی سی د کونړ ولایت شیګل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولسوالۍ کې د امریکایانو له لورې د
حرفوی زده کړو یو ښوونځی و چې زیات
شمیر کسان یې وروزل   د سرک په منځ
پنځه طالبان د ولسوالۍ په لورې روان دي
خو د قسمت فیصلې ګوره د موټر د عقب
شیشه د یو طالب له ځنګله ولګیده یاسین
موټر د ودرولو هڅه وکړه خو بل طالب
سمدلاسه ګونده ماته کړه کیناست او په
موټر یې ډز وکړ خبره دلته د حیرانتیا !!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرک په منځ روان یم ټوپک هم راسره دی نو دا لټ دې ولې وهلی څه اړتیا ده ټوپک دې ولی ندی لاک کړی دا یو تعجب دی ولی دې په موټر ډز وکړ سمه ده موټر ووهلې موټر پسی منډه کړه که د تیښتې هڅه یی وکړه د موټر ټییر ووله هوایی ډزی پری وکړه مخکې پوستې ته خبر ورکړه او یا موټر پیدا کړه ورپسی ورشه خو د سمدلاسه ډز وکړ وایی قصاب ته د چرګ حلالول څه سخت دي نو قاتل ته د انسان وژل هم سخت ندي ځا خیر مرمۍ په بیړه لاړه د موټر په ډیګۍ یا ډاله ولګیده ذاهد چې په دویم سیټ کی ناست و او د طالب سره د شیشی له لګیدو سره سم یی شاته ګتلو لپاره ملا کږه کړي وه مرمۍ هم په بیړه د ذاهد یو تشی کی ننوته او بل تشي کی ووتله د ډریور د سیټ څخه ووتله او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاسین ملا کی ننوته نور د مرمۍ زور ختم شوی و نو له همدی امله مرمۍ یاسین کې حصاره شوه د ډز سره سم موټرې ودریدی کسان راښکته شو خو د یاسین څخه موټر کچې ته شو ښه و چپه نشو  یاسین او ذاهد د موټره راښکته شو ذاهد په خیټه لاس نیولې و ټولو فکر وکړ چې په لاس لګیدلی ذاهد وویل:

 زه لګیدلی یم مسلم همغه موټر راتاو کړ هیواد یی ورته کینوو او حرکت یی وکړ یاسین پنځه متره لاړ ټولو فکر کوو هغه روغ دی خو ناڅاپه په ځمکه پریوت کسان وروړسیدل یاسین په ځمکه لویدلی و رنګ یی زیړ و ذبیح الله چې د یاسین د کاکا ځوی و ورته وایی یاسینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـءا

ـياسينه

ـءا

ـ ځنګه يی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ ښه یم ذبیح الله د یاسین خیټه وګټله وینه نه
وه فکر یی وکړ ډار شوی له همدی امله
ځوب پری راغلې شاکر چې د یاسین د
ترور ځوی دی راورسید یاسین یی د پښو
او لاسونو ونیو موټر کی واچوو او د
اسعداباد روغتون په لور راروان شول هلته
ټول ورخطا دي حامدالله په طالب ورمنده
کړه د ټوپک څخه یی ورته شاجور وویست
ټوپک یی نورو ملګرو ته ورکړ نورو
طالبانو لټونه وهلی وایی مخکې رانشئ
حامدالله غږ کړئ راشې ونیسی ذبیح الله
وروسید مجرم یی ونیو حامدالله او ذبیح الله
مجرم نیولی نور کسانو ورته سوکان او
څپیړی نیولی نور طالبان لټونه وهی هڅه
کوي مجرم ته د تیښتی لار پیدا کړي خو
لنډه او اوږده یی څه کوئ مجرم یی په
موټر کې کینولو غواړي قومندانی ته یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

راولې خو طالبان په سرک ولاړ دي موټر
نه پرېږدي د کلی ټول خلک راغلې ولاړ
دی د یاسین دوی ملاتړ کوي طالبان ملامت
ګڼی حامدالله له موټره راښکته شو په سرک
ولاړ طالب یی ورمنډه کړه هغه شاته روان
دی دوی که هر څومره هڅه وکړه خو
طالبانو نه پریښودل اخر دولسوالۍ په لور
روان شو مجرم یی ولسوالۍ ته بوتلو نور
طالبانو پسی د ولسوالۍ کسان راغلل هغوی
یی هم له ځان سره ولسوالۍ ته راوړل دوی
مجرم ولسوالۍ ته راوستو یو طالب ورته
وایی مجرم پرېږدئ دوی نه پرېږدې وایی
تاسو مونږ ته یو کس راوښایی مونږ به یی
هغه ته وسپارو هغه به مونږ ته ضمانت
راکړي بیا به مونږ مجرم ورته وسپارو
کیسه نه اوږدوم مجرم یی وسپارو ولسوال
راغلی ښه چلند یی وکړ دوی ورته د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسانوکیسه وکړه چی مجرم سره یی تیښته
کی مرسته کوله هغه طالبان هم راوستل
شوولسوال امر ورکړ چی د عارضی
مطابق نور کسان هم ونیس‌ئ نور کسان هم
ونیول شو د تعقیب لاندې دي بیرته به
ریوس راشو کور ته د یاسین د لګیدو سره
سم کور کی سړو ته خبر ورکول شو دوی
روغتون ته ځانونه ورسول کور کې ځوک
پوهه نشو بل چا کور ته زنګ وهلی ویلی
دي چې ستاسو کور کې کوم مشر نشته
هلکان درته ټول طالبانو وویشتل د دې
خبری سره کور کې چغې شوي کوم سړی
نشته یو د یاسین مشر کاکا دی کله یو ته
زنګ ووهی کله بل ته د چا لمبر کار نه
کوي بل کس د یاسین د تره ځوی ته زنګ
ووهو ورته وایی چیرته یی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـتره کره یم

ـ څه شی کوي

ـ کرکټ ګورم ولی؟

ـ زه ستاسو کور خواته یم دلته اوازه ده چې
مسلم چا ویشتلی

ـ چا وویل؟

ـ دلته ټول لګیا دي ډیر خلک راټول شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ سمه ده زه درغلم ادریس نورو ته وایی
زما صنفی زنګ وهلی و چې مسلم چا
ویشتلی ټول پاځیدل او د مسلم دوې کور ته
یی ځانونه په منډه راورسول دلته ډله خلک
ولاړ دي وایی ذاهد او مسلم چا ویشتلې د
یاسین ترور بیا وایی ای رښتیا یی ویشتلی؟
له کور څخه د چغو اوازونه خیژي ادریس
مشر ورور ته زنګ وهی هغه وایی زه
اوس وروان یم د نورو موبایل کار نه کوي
څه کسان کور کی پاتې کیږي او نور
روغتون ته په منډه روان دي روغتون یو
کیلو متر لري د ښار منځ کی واقع دی پیاده
تګ ورته شل یا پنځلس دقیقی وخت نیسي
دوي هم منډی وهی هلته ځان رسوي
طالبان په دروازه کې ولاړ دي څوک دننه
نه پریږدي منګل کاکا بهر ولاړ دی دومره
وایی چې یاسین او ذاهد لګیدلی نور څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

ندی لګیدلي نور هغه هم روغتون ته ننوځی
ځینی کسان بیرته کور ته راځی او ځینی د
کتارو له پاسه روغتون ته ننوځی له
روغتونه راغلې کسان کور ته ډاډ ورکوي
وایی دومره ندی لګیدلی اوس ښه دی کور
ته هغه کسان هم راغلل چې د چکر لپاره
تللی و خو دا کوچنیان و دوي کیسه کړی
وه ټول غلی و مور یی وایی یو کال دې
پروت وي خو چې ژوندی وي د ذاهد مور
هم خبره شوی د یاسین دوې کره ناسته ده
اوس به بیرته واپس لاړ شو دې خبری ته
چې یاسین روغتون کې په څه حالات دی
شاکر موټر راتاو کړ یاسین یی په کی
واچوو او د روغتون په لور راروان دی
لاره کی رش دی موټر د ذاهد د راوړلو
څخه پنځلس دقیقی وروسته راورسید ټولو
فکر کړی و چې یواځی ذاهد لګیدلی ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلس دقیقی تیری شوي نوید هم راورسید
نوید چې ښنګه خبر شو چې یاسین لګیدو
سمدلاسه راروان شوی و یاسین  کټ کی
پروت دی ژبه یی په وینو ده نوید ورته
وایی یاسینه ـاء ـیاسینه ـ اء نرسان وایی په
کوم ځای لګیدلی نوید د یاسین په ګریوان
کې لاس واچوو جامی ټولی وشلولې ځای
معلوم شو  عملیات خونې ته یی ننویستو د
څه وخت ورووسته یی بیرته راوویست د
نشی حالات کی دی عملیات خونې ته یی
ذاهد ننویستلو یاسین نشی حالات کی دی د
سورت حشر دوه ویشتم ایات لولې کله چې
د نشې ووت میرویس کاکا ته وایی مخ دې
راوړاندې کړه چې ښکل دې کړم میرویس
کاکا یاسین او یاسین دا ښکلوی بیا میرویس
کاکا ته وایی زه به ښه شم ـهو ښه کیږي ـ
که زه ښه شوم اکاونټ کی می دوه شپیته

(c) ketabton.com: The Digital Library

زره افغانی دي پنځوس زره ډاکټر ته
ورکوم د ماښام له لمانځه لږ مخکی فشار
جګ شو میرویس کاکا دوې لاړل جومات
ته تر څو لمونځ وکړي کله چې راغلل د
یاسین حالات خراب دي بیرته یی عملیات
خونې ته ننویست لږوخت وروسته یی مړ
راوویست لاړ به شو کور ته کور څنګه
خبریږي دکلې څو کسان راغلې حجره کی
ناست دی مسلم هم راغلی مسلم دننه کوټې
ته ننوت کلیوال په بیړه او منډه د کوره
ووتل هلکان ورته وایی ولی دوې وایی څه
نشته دې روغتون ته به لاړ شو هوښیاران
پوهه شول چې څه خامخا شوي شاکر کور
ته زنګ وهلی وایی کټ بخاری کوټې کی
تیار کړی کټ تیار شو مسلم حجره کې
ولاړ دی سلام ګرځوی او بیا نفلو ته
جګیږي او شروع کوي یی لومړي موټر

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلی غږ شو یاسین یی راوړو هلکان د
باندی ورووتل په موټر کې راغلی کسان
چغې وهی وایی یاسین مړ شو هو یاسین
مړ شو نوید په بله دروازه تر کوره ځان
رسولی کور ته ننوتلو چغی وهی وایی
یاسین مړ شو له کوره هیبتناکه چغې پورته
شوي داسی چغې چې زړونه یی ودردول
داسی چغې چې ویره یی خپره کړه داسی
چغې چی خوبونه یی وتښتول داسی چغې
چې کلی یی حیران کړ ښځی بهر ته د تللو
کوشش کوي دروازه یی بنده کړه بهر په
امبولانس کی یاسین راوړو د یاسین مرګ
یوه مور بوره کړه د ورونو مټ یی مات
کړ د خویندو ارمانونه یی خاورې کړل د
پلار د زړه ټوټه جلا شوه د یاسین مرګ
یوه خوشحالی په غم بدله کړه یو قام یی
وویرو یو ملت یی وګواښو یو حکومت یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدنام کړو هو د یاسین مرګ ډیری بدی
راوړی او ډیری خوشحالئ یی له منځه
ویوړې خو د دې هر څه لامل یاسین ونه
بلل شو بلکی طالب وبلل شو د یو فرد
شخصی کړنې دا هر څه رامنځته کړل ټول
چغې وهی خپل او پردی ندی معلوم هر
څوک ژاړی ځینی کسان بیا د صبر او
استقامت خبره کوي خو نه کیږی نوید
زورونه وهی ځان تر خپله پلار پورې
رارسوي له سترګو یی اوښکې بهیږې پلار
یی کټ کی ناست دی د اوښکو په بهولو د
خپل زړګې غمونه سپکوی نوید ورته وایی
ژاړه مه الله درکړو او الله درڅخه واخیست
صبر وکړه د یاسین جسد یی کور ته
ننویست د ښځو منځ کی کیښود یوی مور
ته یی ځوی کیښود داسی لکه زندانې چې د
خپل خپلوان سره د لږ ساعت خبرو وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړي ورته وایی زر زر مو مجلس خلاص
کړئ وخت په پوره کیدو دی همداسی
یاسین هم کیښودل شو وخت یی ورته وټاکو
وویل تر سبا دوه بجو د زړه بړاس وباسئ
د سبا دوه بجو وروسته بیا د لیدلو ځای
یواځی د محشر میدان دی دا حالات د
زندانې د کیسی بدتر دی یوه ښځه وایی مړ
دی وی خو په دې ورځ نه مور یی سرته
ناسته ده هیڅ یی د وسه ندی پوره یواځی
ژړا وریاتی ده د یو ساعت خبره وه د
یاسین له مرګه ټول جهان خبر شو وغندل
شو خپګان وښودل شو دعاګانې وشوي خو
خبره غلطه مشهوره شوه د رسنیو دا خبره
مشهوره شوه چی یاسین د ورور واده کی د
موسیقی اوریدو له امله وژل شوی خو
داسی نه وه شاعرانو شعرونه پری ولیکل
خبریالانو دا خبر تر نورو ورسوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانانو ورته دعاګانې وکړې او کافرو
پرې غمراځی وښوده حکومت دا برید
وغانده او د یاسین وارثینو ته یې د پریکړې
حق ورکړېښنه کوی او که قصاص اخلئ
یاسین پروت دی د شپې ناوخته طالبان
راغلل فاتحه یې وکړه په ورونو کې نوید او
ترونو حالات یې لږ ښه دې طالبانو وویل:
د یاسین جسد باید طب عدلې ته ویوړل شې
تر څو دا خبره ثبوت شی چې طالب یاسین
ویشتلی خویندی ورته ژاړی منګل کاکا
ولاړ دی ډاډ ورکوی وایی بیرته یی درته
راوړم مور یی ورته وایی منګله تا ته می
درکړو که دې رانوړو زه یی په خپله
راوړم خور یی وایی یاسینه تا له مونږ
څخه وړی ځا خیر یاسین یی امبولانس کې
واچوو او طب عدلی ته یی ویوړو خلک
خواره شو او ښځی ناستی وې سهار له

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمعې وروسته یې بیرته یاسین کور ته
ننویستو په جوماتونو کې اعلانونه وشول
خلک خبر شو راغلل په هر چا د غم څادر
خور دی راځی فاتحه اخلي بیرته ځي د
کلې ښځي راشي کور ته ننوځی بدحال
ووینی هغه کور چې پرون په کې
خوشحالې وه نن ترې د ویر چغې خیژی دا
بدحال نشي زغملی نور څه یې له وسه نه
وي پوره مرحوم ته دعا او مجرم ته داسی
خیرا وکړي الله تعالی دې په داسې غم اخته
کړه لکه څنګه چې دې دوی اخته کړل کله
چې بیرته ځی یوه ښځه بلې ته وایی چې دا
قاتل راوباسې او چوک کې اعدام کړي
څنګه ښه کار به وکړي بل طرف ته کور
کې لوډسپیکر لګولې عالمان خبرې په کې
کوي د کل نفس ذائقة الموت ایاتونه
تکراروي د الله تعالی امرونه بیانوي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبر کولو امر کوي ښځې خاموشه دي د
ملا خبرو ته یی غوږ نیولی د یاسین قاری
راغلی خبری شروع کړی ژاړی وایی
یاسین راته تحفه راوړه ځکه چې قران یی
په حفظ ختم کړی و او د راتلونکی دوشنبی
په ورځ یی د ختم فراغت و ما ورته وویل
مونږ خو تحفی نه اخلو خو بیرته واپس
کول هم نشته زمونږ لپاره تر ټولو ستره
تحفه ستاسو له طرفه د قران زده کول او
عمل پری کول دي خو اوس هغه نشته
وفات شو صبر به یی وکړو مونږ سره د
هغه سند یا شهادت نامه حق دی او دا حق
به مونږ ورکوو ملایانو خبری ختمی کړي
ښځو بیا د ژړا بڼن ووهله او شتاټ شوي
کوم چې لږ غلط عمل ترسره کړي مور یی
په غوسه شي هر یو ساعت بعد یی پلار
کور ته سر راښکاره کړي د خپل مرحوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوي دیدن وکړي وژاړي بیرته یی څو
کسان له لاس څخه ونیسي د ورور کور ته
یی بوځی هلته پرې بړستن واچوي خپل
لمسیٔ محمد له ځان سره نیږدې پریوځوي
خواته یی کسان ناست وي نصیحتونه ورته
کوي بار بار نوید راشي ژاړي نه پلار ته
وایی صبر وکړه الله تعالی ته سوال کوه له
دې سختې راباندې رانشی استغفار وایه بس
الله تعالی درکړو بیرته یی درڅخه واخیست
په ژړا هیڅ نه کیږي که څه پری کیدلې
اوس به یاسین بیرته راژوندی شوی وی
کله چې بیا د یاسین خواته ورشي د یاسین
مور ورته نصیحتونه کوي بار بار له ځان
سره وایی زما ښایسته بچوړی خو ښایسته
لړ وخت په دنیا کې پاتی دی نور به د تل
لپاره د دې غمجنې ویرونکې ظالمی او بی
وفا نړې سره خدای پامانې کوی او د قبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کوچنۍ سیمه کې به پریوځې خور یې
ورته ژاړي کله چغه کړي وایی یاالله تعالی
نن ورځ د کال هومره اوږده کړه خو
افسوس ورځ که د قیامت هم شي چې
پنځوس زره کاله ده تیریږی نو د دنیا ورځ
دي هم یو کال شي بیا هم لکه باد تیره شي
او هیره شي یاسین ته یی جالینه خولۍ په
سر کړي ښکلا یی دوه برابره ده شاوخوا
یی ګلنګس ګلان پراته دي ښایسته بوی
کوي خور یی د امریکا زنګ وهلی د مسلم
سره خبرې کوي مسلم نه ژاړي سل زړونه
یی یو ځای کړي خپلی مسافرې خور ته
تسلیت ورکوي خور یی اوښکې بهوي
وروسته یی د شاکر سره خبري پیل کړي
ورته وایی تاسو ښه یی ومو خو لیده ما خو
ونه لیده شاکر ورته وایی که څه کیدای
مونږ به کړی وی ما تر روغتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راورسوو خو رزق به يی په دي دنيا ختم
شوی و وخت تير شو ځو کسان کور ته
راننوتل کټ يی راواخيست د ښځو منځ کې
ګرځوي ښځی ديدن کوي هر څوک ناری
وهی دلته يی راوړی بيرته ووتل خبره
وشوه جنازه بايد نوره ويوړل شی د کلی د
ملک امير حاجی پلار هم مړ و هغه ډير
سپينږيری شوی و او د ياسين او هغی
جنازه به يوځای کيږي د ياسين جنازي
پسی خلک راننوتل جنازه يی اوچته کړه د
يوی مور د زړه ټوټه يی نوره خاورو ته
سپارله د دريو خورګانو ارمان يی تري
بيلوو د ورونو مټ يی تری لري کوو نويد
ډير استقامت او حوصله کړی وه نور يی
نشوه کولې له زړه د اخلاصه چغې وهي
خورګانې يی زورونه وهی داسی څوک
نشته بل ته تسليت ورکړي خپل او پردی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ندی معلوم هر یو ژاړي جنازه یی وویسته
څو دقیقی حجره کی خلکو دیدن وکړ نور
یی جنازه اوچته کړه ټول لکه یاجوج
ماجوج د جنازې کټ پسی نښتی ځای نشته
چې بل کس یی ونیسی ځینی د کټ یخ ته
ننوتی او کټ ته یی اوږه ورکړي

دا څوک دی چې یی کټ ته دومره اوږی
راغلی

دا څوک دی چې هر څوک یی جنازه اخلې
او ژاړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا یاسین و هر څوک ورته ژاړی د واده
ورځ باندی ځوانه ځوانې او د شهادت
مرګ جمعی شپه هر څوک له ځان سره
دعا کوي وایی یاالله ماته هم داسې مرګ
راکړه جنازه یی جنازګاه ته یوړه کیښودل
شوه خلک پری راټول شو بله جنازه یی هم
راوړه خو هر څوک یاسین وینی یو چې
ورته ودریږی بیا نه ځی د دیدن لاره نشته
اخر فیصله وشوه چی صفونه جوړ کړئ
صفونو کی به یی وګرځو صفونه جوړ شو
خو دومره خلک دي چې لاره نشته تر څو
جنازه په صفونو وګرځوی نوید د یاسین
کټ ته ولاړ دی چغې وهی د تسلیت څوک
یی نشته په سختو یی جنازه مخکی راوړه
په صفونو یی ګرځوي نیمایی ته لا نه و
رسیدلي چې وخت پوره شو جنازه ودریده
اعلان وشو چی د جنازی وروسته به یی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره کړو جنازه وشوه دا د لومړی ځل
لپاره تر ټولو لویه جنازه وه څوک چې خبر
شوي و ځان یی رارسولې و خلک د سرک
دواړو غاړو ته ولاړ دي یاسین یی په منځ
کی تیروي بله جنازه راوړل شوي وه
خښیدل یی شروع شو لږ وروسته یی یاسین
راوړ میدانی کی ایښی خلک راځی ورته
ګورې سر د افسوس په ښه خوځوی بیرته
روانیږی تر څو بل مړی خښیدو د یاسین
دیدن شوی و ملا لګیا دی خبری کوي د
تسلیت پر ځای بل څه وایی یاسین به هم
ملامته و ځوانې وه څه غلطې به د دې
څخه شوي وي ـزمونږ د نوي نسل ذهنونو
کی کفرې نظری نښتی او ځای نیولی د امر
بالمعروف والا لګیا دی تر څو دا لرې
کړي پلارونو ته په کار دي تر څو دوي
اصلاح کړي دا او داسې نور په داسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې د انسان ماغزه خرابوی دغه ځای
د تسلیت دی او باید تسلیت خبري وشي
خلک مرګ ته متوجی شي خو ملا په
بابولالو سر شو خبره ترې ورانه شوه د
یاسین یو ملګری پاځید ملا ته یی کنځلې
وکړي وویل بل ملا نشته چې تاسو دا
پاځولی بل کس سمدلاسه لوډسپیکر بند کړ
پاځید وویل: یوه دعا به وکړو ملا نور
کیناست دعا وشوه خلک کور ته راغلل ډلې
ډلې خلک فاتحې ته راځی دوشنبی ورځ د
یاسین دستار بندې ده د قران د حفظ کولو
سند ورکوي جومات ته یی خپلوان راغلې
هر عالم د بیان په وخت مرحوم یاسین ته
دعاګانې کوي خپل خپګان ښکاره کوي د
فراغت وخت راورسید د یاسین قاري پاځید
سندونه یا شهادت نامې ویشي  د پیل کلمات
یی وویل بیا یی وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کال دری پنځوس کسان فارغیږی چې په
هغې کی یو کس غیرحاضر دی یاسین سند
یی ورته مشر ورور ته ورکړ قاری ژاړې
خپه دی جومات کی نور هم ورسره په ژړا
دي قاری صیب داسی ښیرا کړي: الله تعالی
دې قاتل په داسې غم اخته کړي لکه دوې
چې پری اخته کړل دوه خوشحالیانی یوه د
واده او بله د قران د ختمولو پرې غم کړي
غونډه پای ته ورسیده ورور یی د سند سره
یوځای کور ته راغلئ سند ته ګورې
ژاړی د یاسین یادونه یی ځوروي د کاکا
ځوی یی محسن وایی ما د یاسین څخه
وپوښتل کله دې ختم دی یاسین وویل کله به
وي رابه شي تیر به یی کړو خو افسوس
ختم یی راغلې خو یاسین ورپه کې نه و ما
ښام ته فسبوک کې دا لیکنه هر چا فوسټ
کړی وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سند یا شهادت نامه قاریانو ته له دې امله ورکوي، تر څو دنیا کی ترې ګټه واخلي؛

خو افسوس!!!!
(شهیده ته له دې پانۍ ګټه نشي پورته کولې)
ټول پوهیږی کله چې یو څوک سند اخلي څومره خوشحاله وي؛ د ارامۍ احساس کوي؛ زړه یی د کامیابۍ ټوپونه وهي؛ مور یی راتګ ته انتظار کوي؛ د هغه سند په خوشحالۍ سره لاس کې اخلي، ورته خاندې.
خو افسوس!!!!
((تا دا خوشحالي ونه لیدله))
ته نه وي ستا سند یی ستا ورور ته ورکړ، ته یی غیر حاضر اعلان کړي، ستا سند ته مور خوشحاله نه وه، په خوشحالی یی وانه خیست، ورته وی ژړل، ښه ډیر یی وژړل، خپه شوه.
((ستا سند د دوې لپاره ویاړ نه))
- بلکې -
((یاداښت شو؛ داسي یاداښت ،چې هیڅکله به هیر نشې ؛دا د ټولو لپاره یاداښت و))
خو خپه کیږه مه!!!!
- هغه سند چې رب العلمین یی له تا غواړې تا له ځان سره سینه کې ویوړ.
- ټول لاس په دعا یو  هغه سند چې تا له ځان سره ویوړ ستا د برزخ او اخرت د کامیابۍ لامل شې" او همدغه سند تا د جنت تر اوچتوو درجو ورسوې او تا د جهنم له سخت اور څخه وساتي.
هغه سند چې له مونږ سره دې دا خو یوائې یوه پاڼه ده ریښتیني سند تا له ځان سره ویوړ

(((( شهیده ))))
په سبا ورځ سی شنبه ماذیګر وخت والي راغلی وویل:
مونږ شل کال مبارزه د دې لپاره کړي چې عدل راشي ستاسو خوښه ده قاتل ته ښننه کوي او که شرعي محکمه غواړئ والي هم لاړ ورځی تیریدی قاتل منلی وه چې ډز یی کړی او کسان یی ویشتلي خو ویل یی چې د غوښتل ټییر وولی او خطایی کی موټر لګیدلی و قاتل ننګرهار ته انتقال شو نظامي محکمه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

پری کیږي د جمعی ورځ یولس بجی د یاسین سره یو ځای لګیدلی ملګری چې
د یاسین سره به تل یو ځای ګرځیده یو ځای به بازار او دوکان ته تلل یو ځای
به تل ناست و د ژورو ټپونو له امله په اسلام اباد کی ساه ورکړي وه د شنبی د
شپی ناوخته یی راورسوو خو بیا هم ترې وینه روانه وه د شپی روغتون کی و
او سهار یی کور ته راوړ نهه بجې یی جنازه ترسره شوه عالم په خپله وینا کې
وویل: ولس ډیر ځوریدلی دی دا جنازه د دې ګواهی کوي چې ولس قاتل ته
سخته سزا غواړې دا هم څه کوچنۍ جنازه نه وه دې جنازی ته هم بی شمیره
خلک راغلی و ورور یی په فسبوک لیکلې وه که حکومت د شریعت په رڼا کې
قاتل ته سزا ورنه کړي نو دوې به د حکومت خلاف ملې پاڅون وکړي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**